


# ځانګړي

# خیبرپښتونخوا

## تخمینه۲۰-۲۰۱۹ء

## د عوامو د پوهې لارښود

# کلیزه مالي تخمینه د پاره د کال2019-20ء

## د کتابچې په حقله


په خیبر پښتونخوا کښې د فاټا تاریخي انضمام نه پس، صوبه ړومبۍ ګډه مالي تخمینه دپاره د کال **20-19** وړاندې کوي.

دا کتابچه د صوبې د خلقو د پوهې او د هغوی په ژوند د مالي تخمینې د اثراتو اهمیت په ساده او اسانه ژبه وضاحت کوي د خیبرپښتونخوا واك چارې د کال ۱۵-۲۰۱٤ء راسې "اولسي ــ مالي تخمینه" هر کال شائع کوي دا عمل دا خبره په ډاګه کوي چې د خیبرپښتونخوا حکومت د خلقو د بجټ متعلق معلوماتو ته رسائۍ کښې خومره مخلص دے. بله دا چې دا به د احتساب، باور او د مالي امورو سره متعلقه خبرو په پیژندګلو کښې لاس کونکے ثابت شي.

## بارِ دعویٰ

دا دستاویز د صوبې صحیح او تخمینه کړے شوے وصولې او خرچې په شمول د صوبې ترجیحات وړاندې کوي. د کال ۲۰-۱۹ء تخیمنه شوې هندسې په اوسنې، متوقع او په وړاندینو ترجیحاتو اډانه دي. د نوې څیز اضافه، د راتلونکې وخت پیښې یا نور ترقیاتي کارونو په وجه دې کښې بدلون کیدے شي.

# د وزیراعلیٰ پیغام




زۀ د مربوطې صـــوبې د یو غونډ بجټ په دې تاریخي پړاؤ فخر کوم د دې باور سره چې د پښتونخوا حکومت د ضم شوو ضلعو د صوبې د نورو ضلعوسره برابرۍ کښـــې مخلص دے بغیر د څه تردّود هغې وېرې چې پېښـــېدے شي. مونږ دا خپله ذمه واري ګڼو چې د دې صوبې هر وګړي سره ښۀ او د برابرۍ سلوك وکړے شي.

د پښـــتونخوا مالي تخمینه ۲۰-۱۹ء زمونږ د اخلاصي پوخ والي په لور د مترقي پښـــتونخوا په عمومي ډول او د مســـتحقو ضلعو په خصـــوصي توګه څـــرګندو نه کوي. زۀ او زما ټولګے دا خبره یقیني کوو چـې راراوانو کلونو کښـــې به زمونږ کارونه او مهمې فېصـــلې زمونږه د کړو وعدو څرګندونه کوي.

**محمود خان**

وزیراعلیٰ خیبرپښتونخوا

# د وزیر خزانه پیغام



د یوې نوې او لوئې صوبې خیبرپښتونخوا د مالي تخمیني جوړول او د دې قیادت کول ما د پاره د اعزاز خبره ده. بجټ چې څنګه لیدے شي د دې نه مختلف دے. لیکن زهٔ باور لرم چې زمونږ محنت دا خبرهٔ په ډاګه کوي. چې په کوم کار کښې چې زړهٔ او روح ولګولے شي نو یقیناً ناممکنه کار ممکن شي.

دا زمونږ د کړې شوې کوششـــونو یو جائزه ده. اوسني اخراجات خصـوصاً د اتلسم ترمیم نه روستو د تنخواګانو او پینشـن په مد کښـــې زیاتوالے وهٔ چې مونږ دغه زیاتوالے وځنډوهٔ. تېر کال ترقیاتي بجټ راغونډ شهٔ او د نور غونډېدو وېره هم وه. مونږ دغه حالات بېخي بدل کړل. په دې لړ کښې سختې مرحلې او روایات پېښ وو چې دغې خلا د بجټ جوړولو فېصله محدوده کړه.

مونږ لوئې او مضـبوطې فېصـلې وکړې لکه دَ ریټائرمنټ عمر کښـې بدلون، خپلې تنخواګانې کمول او په مهمو مَدُونو کښـــې سرمایه کارې کول سیاحت، د ښاریو ترقي، زراعت، سائنس، انفارمېشـــــــن ټېکنالوجي، صنعت، ریسـکیو اؤ رلیف داسې سېکټرې دي چې په خپلو تخمینو کښې روڼ بدلون لري. ځکه چې هم دا سېکټرې به د پښتونخوا په

پیداوار او ترقۍ کښې د ودې اچولو باعث وي او نور ډېر څۀ، لکه د ضم شوو ضلعو د سوکالۍ د پاره رېکارډ تاریخي پیسې مختص کړې شوي دي. دا هغه وعده وه چې په پوره کولوئې مونږه فخر کوو.

په دې لحاظ مونږ یو رېکارډ تاریخي بجټ لرو چې غالب ګمان دے چې دا به پنجاب سره برابرۍ کښــې سم وي چې دغه صوبه زمونږه نه په معاشي حجم کښـــــــــې څلور چنده غټه ده. دا سوچ د یقین قابل نۀ ښکارېدۀ. دا ټول کال مونږ هر محکمې سره هلې ځلې وکړې چې هغوي خپلې تخمینې په کوټلې انداز منظم کړي، د بجټ پېژندنه وکړي او د خپلو اقداماتو جائزه واخلي، د ترقۍ ترجیحات وګورئ او هغه ګنده لاسونه په ګوته کړي چې معاشي خلا پېدا کوي. دا زمونږه مدعا وه او زۀ په دې فخر کوم چې مونږ د سوچ نه هم ډېر زیات څۀ تر لاسه کړۀ.

ځکه دا صوبه او د محمود خان حکومت دا غواړي چې د دغې بدلون سرخېل دې هغوي وي چې د هغوي په قیادت کښې په ړومبي ځل به انشاء اللّٰه د دې بجټ په ذریعه ثابته شي

زۀ پوخ امېد لرم چې دا شروع ده مونږ به ډېر ډېر څۀ کوؤ. انشاء اللّٰه

تیمور سلیم خان جهګړه
وزیر خزانه، خیبرپښتونخوا

# د اېډیشنل چیف سېکرټري له خوا پېغام



د حکومت د پاره د زیاتې ابادۍ له خوا ګڼې مطالبې پوره کول یو لوئے چېلنج دے. په خیبرپښتونخوا کښې د قبائلي ضلعو تاریخي انضمام به دلته د امن او استحکام په راوړو کښې مددګار وي خو دغه چېلنج به نور هم پیچیده شي ځکه چې حکومت د نوؤ ضم شوؤ ضلعو د تېزې ترقۍ او دغلته د معاشي و معاشرتي ودې لس کلیزه منصوبه منظور کړې ده. د پي ټي ائي د حکومت مخلصو او ګټورو منصوبو تر مخه چې پکښې د صوبې معاشي و معاشرتي بدلون مقصد دے یوه سالانه ترقیاتي منصوبه جوړه کړې ده چې هغه به د ګردې پښتونخوا د خلقو د خواهشاتو عکاسي کوي.

د حکومت نظر په معاشي و معاشرتي محاصلو مرکوز دے چې په هغې کښې عوامو ته غوره سروس یقیني شي. په ناقِصه سرمایه کارۍ غېر معمولي قدغن د چیف منسټر صاحب په هدایت ولګولے شۀ او د خزانې د وزیر په رهنمائۍ کښې واجبات تر دوه نیمو کالو پورې وځنډول.

معاشي ودې خصوصاً د سیاحت، صنعت او ښاریو د ترقۍ مدونو کښې کوټلې ترجیحات راوړې شو.

او د تعلیم، صحت، هنرمندۍ سهولتونه او د لوبو مد کښې خصوصي سرمایه کاري شوې ده په دې غرض چې انساني ترقي په هره طبقه کښې تر لاسه شي.

سالانه ترقیاتي پروګرام ۲۰-۲۰۱۹ء د حکومت د ایجنډې په تناظر کښې واجبات کمول او غونډول او د نوې پراجیکټونو یقیني کولو اجازت به ورکوي. د ګورنمنټ پوخ عزم دے چه شفافیت او احتساب به قائم ساتي چې دغه رنګ د هرې لګولې روپۍ قدر زیات شي.

**شهزاد خان بنګش**
**ایډیشنل چیف سیکرټري**
**صوبه خیبر پښتونخوا**

# پیغام د اړخه د سېکرټري خزانه خیبر پښتونخوا



حکومتي فېصلو کښې شفافیت د ښهٔ حکومتي چلن اړانه ده. د "اولسي بجټ" په ذریعه د خزانه محکمه کوشش کوي چې عامو خلقو ته د بجټ باره کښې کوټلې معلومات ورکړي. محکمه د صوبائي حکومت معاشي فېصلې او ترجیحاتو او د عام اولس د ضرورتونو په لړ کښې د کوششونو یوه سرسري جائزه هم عوامو ته ورکوي. د دې نه علاوه محکمه د خپل ویب سائټ له لارې د بجټ دستاویزاتو ته رسائي یقیني کوي.

زهٔ باور لرم چې زمونږ د کوششونو په نتیجه کښې د بجټ خبرتیا او دې ته رسائي اسانه او ممکنه کړې شي او د بجټ متعلق عکس ورته دا خبره سپینه کړه چې پیسه څنګه لګي او د دې حساب څنګه کولے شي.

**شکیل قادر خان**
سېکرټري خزانه
خیبر پښتونخوا

# میزان مشتملات

9 | په بجټ پوهېدل

19 | مجوزه بجټ ۲۰-۲۰۱۹ء

39 | په نوي ضم شوؤ علاقو کښې سېکټر وائز بجټ


15 | مونږ تېر کال څۀ تر لاسه کړۀ؟

31 | بندوبستي علاقوکښې سېکټر وائز ځلنده خبرې

# په بجټ پوهېدل

# حکومتي بجټ څهٔ څيز دے؟


ټيکس محصولات



عوامي خزانه




د ملکيتي خدماتو ورکړه




خلق ټيکسونه او فيسونه حکومت له ورکوي. په بدل کښې حکومت هغه پيسه واپس په خلقو د تعليم، صحت، تعميرات بشمول توانائي او سړکونو آسامو پيدا کولو او خلقو ته د هغوي د خدماتو په بدل خرچ کوي .

د بجټ کال په پاکستان کښې د يکم جولائي نه تر ۳۰ جون د وړاندې کاله پورې وي. عموماً بجټ د مئ او يا د جون په مياشت کښې منظورېږي. د خيبرپښتونخوا بجټ د حکومت مالي پوزيشن او کومه ګټه چې به حکومت په راروان کال کښې (ماليات يا محصولات) کوي او دغه پيسې به د خلقو په فلاح کښې څنګه خرچ کوي.

# د توازن قانون (ایکټ)




د بجټ بنیادي اصول دا دي
د وسائلو خرچ د وسائلو په پیداوار منحصره دے.
کهٔ چرې حکومت په ډېرو وسائلو پیدا کولو کښې
کامیاب شۀ نو هغه په دي مَدُونو کښې ډېرې
خرچې وکړې شي.
سرکاري ملازمینو ته ادائیګانې.
نور خلق بهرتي کول او د عوامو د فائدې د پاره
نور پراجیکټونه شروع کول.
چې وسائل کم وي نو بیا په حکومت د مصلحت نه
کار اخستو د پاره زور اچولے شي.

# خیبر پښتونخوا څنګه وسائل پیدا کوي؟

هر کال خیبر پښتونخوا مالي محصولات د مختلفو ذریعو نه جمع کوي چې هغه مشتمل دي په لاندیني ذرائعو

| درجه | تفصیلات | تناسب |
|---|---|---|
| د مرکز نه منتقلي | د ایف بي ار په جمع شوي ټیکس کښې برخه | Rs Rs Rs Rs Rs Rs |
| نیغ په نیغ منتقلي | د تیل او ګیس او د سرچارج مد کښې جمع رقم | Rs Rs |
| صافه هائیډل منافع | کلیزه منافع د پن بجلۍ په مد کښې چې صوبې ته ملاویږي | Rs Rs Rs |
| د خپلو ذریعو محصولات | د سروس او ناقابل انتقال پراپرټۍ مدونو کښې صوبائي محصولات او نورو محکمو مالي پیداوار | Rs Rs Rs Rs |
| غیر ملکي لاسکونکي پراجیکټونه | هغه پیسې چې د هغې خرچ به په مختلفو سیکټرو کښې کیږي د ورکونکي له خوا د ورکړې باور په اساس | Rs Rs Rs Rs Rs |
| قرضې او دغسې نور | کورنۍ قرضې کۀ حکومت اخستې وي یا نور څۀ بچت | Rs Rs |
| د مرکز نه ګرانټ | کورنۍ قرضې کۀ حکومت اخستې وي یا نور بچت په شمول د هغه پیسو چې د قبائیلي ضلعو د پاره دي | Rs Rs Rs Rs Rs |

# د خرچ مختلف ځایونه کم کم دي؟

## اوسنۍ خرچې غیرترقیاتي (اویا فیصده)

### د تنخوا ګانو خرچې

حکومتي غټه خرچه چې کال په کال زیاتیږي.

### د تنخوا ګانو نه غیر خرچې

هغه خرچې چې د حکومتي سستم د روانۍ او د هغې د قائم ساتلو سره متعلق وي.

### پنشن


د خرچې په مد کښې دریم لوئې خرچ چې د دې د کمولو اصلاحات کولې شي.

## ترقیاتي خرچې (دیرش فیصده)

- دا هغه پیسې دي چې د ټولو محکمو سره تعلق لرونکو پراجیکټونو او سکیمونو د پاره استعمالیږي.
- دا د صوبې او ضلعو په سطح خرچ کولے شي دیرش فیصده فنډ د لوکل ګورنمنټ د ایکټ لاندې لوکل باډیز ته ورکولے شي.
- دا عموماً هغه پیسې وي چې د ټولو خرچو نه روستو بقایا پاتې شي.
- چونکه دا نیغ په نیغه د عامو خلقو د خیر ښیګړې د پاره استعمالیږي نو دا کوشش کولے شي چې دا خومره زیاتې وي نو ښهٔ به وي.

# حقيقي خرچې په مقابله د تخميناتي خرچې

سالانه بجټ تقسيم او په پاکستاني روپو کښې د هغې خرچ (بيلئن کښې)




رواياتاً دا بيانيه په بجټ مرکوز ده. اګر چې دا د اندازې په بنياد تخمينه کړې شوې ده او حسابي عمل پورې محدود ده. حقيقت دا دے چې په تخمينه کړې شوې پيسو او اصلي خرچه کښې فرق وي. په ښۀ معاشي نظام کښې نه صرف د بجټ د عمل نظرثاني شامل وي بلکه حقيقي خرچو ته هم کتلې شي. د شفافيت تر مخه، د خيبر پښتونخوا حکومت به اوس د بجټ په کاغذونو هغه اعداد و شمار ښائي چې حقيقي خرچ سره متعلق وي.

# تیر کال مونږ څۀ تر لاسه کړل


RWAY
سوات موٹروے
خوش آمدید
Swat Motorway
RASHAKAI
SPECIAL ECONOMIC ZONE

# خیبر پښتونخوا سرکار په ټولو سیکټرو کښې د غټو پراجېکټونو په سبب پرمخ تګ کړے دے.

د مفاهمت یاداشت د کوریا کمپنۍ **KHNP** سره سره د پاره د٤٩٦ مېګاواټ" سپاټ ګاه اېچ پي پي کوهستان ان پي پي پي" لاس لیك شوه. چې پکښې د خیبر پښتونخوا حصه شپږ ویشت (٢٦) فیصده ده او د **KHNP** حصه څلور اویا فیصده ده. د دې معاهدې لاندې د کمیونټي په سطح ٢٨٦ مائیکرو هائیډل پراجېکټونه مکمل شو.

پینځویشت نوې صنعتي یونټې ولګولې شوې او پینځۀ نورې بندې یونټې چالو کړې شوې

رشکۍ صنعتي زون لوظ نامه د سي پیك لاندې چائینه سره لاس لیك شوه

مهمند اسپېشل اقتصادي زون ګرډ د بجلۍ قوت سره توانا کړے شۀ.

سوات موټروے د ورو ګاډو دپاره ازاده شوه

په " جلوزۍ هاوسنګ ترقیاتي کارونو" د دوېمې مرحلې لاندې کار شروع شۀ

شپږ سوه کلومیټره نوې سړکونه تعمیر کړې شو یا دوباره جوړ کړې شو

په ګرده پښتونخوا کښې دوه ویشت (٢٢) پلونه تعمیر کړې شو یا سر دوباره جوړ کړې شو.

ګوجر ګړۍ کېنال پارك مردان تعمیر کړې شۀ او رینګ روډ ته راووتي ملحقه سړکونه بهتر کړې شو.

دیارلس جاري کاروبارونو ته د ډُرشل پراجېکټ لاندې وده ورکړے شوه

پنځوسو ائي ټي کمپنو ته د کرائې، بجلۍ او انټرنېټ مدونو کښې اسانۍ ورکړې شوې

د ګل ډېرې، جلوزۍ او کنډل د ورو ډیمونو په ذریعه نوښار او صوابۍ کښې ٧٠٠٠ (اوۀ زره) ایکړه زمکه اباده شوه

باراني ریزنګ پروجېکټ د بنو او لکي مروت یو لاکهـ اویا زره ایکړه زمکه ته فائده ورکول شروع کړه

په دوه (٢) لاکهـ او دېرش هېکټېره زمکه ځنګل ولګولے شۀ

د " پلانټ فار پاکستان کمپېن " لاندې یوولس لاکهه شل زره بوټي د کر د پاره تقسیم کړې شو

# ......او د پښتونخوا د خلقو ضرورتونه تر لاسه کولو خدمت وکړے شۀ.

په سکولونو کښې اولس زره نوي استاذان د اېن ټي ايس په لار بهرتي کړې شو

(درې لاکهـه کم د شپږ کروړو) مفت کتابونه د سرکاري سکولونو طالبعلمانو کښې تقسيم کړې شو

سرکاري سکولونو ته نهه زرو نه زيات سهولتونه ورکړې شو

د کار کردګۍ په بنياد څلور کروړه روپۍ (٤٠ ملين) څلوېښت کالجونو ته ورکړې شوې

په يو سل نهـه کالجونو کښې تعداد زيات کړے شۀ او په کال ١٩–١٨ء کښې اتلس زره اُوۀ سوه زياتو هلکانو جينکو ته داخلې مېلاؤ شوې

هېلتهـ کيئر ته رسائي زياته کړې شوه او اتيا لاکهه ټبرو ته فائده ورکړې شوه

د مور او بچي د صحت د بهترۍ دپاره هره ورځ څلېرېښت ګهنټې پينځۀ اتيا مزيد سهولتونه ورکړې شو

د صحت ذمه وارو تر سره کولو د پاره شپږ زره نهه سوه ډاکټران (تين درې٣ زره اېل اېچ ډبليوز، دوه٢ زره نرساني او شپاړس سوه پيرامېډيکل سټاف بهرتي کړې شو.

دوه سوه اويا کلو ته د څښلو د اوبو انتظام وشۀ

اووېشت زره پينځه سوه يو (٢٧٥٠١) طالبعلمانو ته فني تعليم او د هنر ټرېننګ ورکړے شۀ

د خيبر پښتونخوا د ايمپکټ چېلنج لاندې څلور سوه بزنس قائدين غوره کړې شو

د پښتونخوا نوي فيصده واټر سټورېج ريزروائرز صفا ستهره کړې شو.

نولسو ضلعو ته ري کلامېشن او پروبيشن انفارمېشن سسټم وغزولے شۀ او د وسلې لائسنسونه کمپيوټرائزډ کړې شو

# د 2019-20
# بجټ مجوزه



# اقتصادي ذمه واری

مالي تخمينه ۲۰-۱۹ء د لاندېنو ذمه وارو تر سره کولو لړ کښې تیاره شوې ده

| معاشي ذمه واري | هدف 2018-19 | حقیقي 2018-19 | هدف 2019-20 |
|---|---|---|---|
| اقتصادي پیداواري شرح | 6.2% | 3.3% | 2.4% |
| اقتصادي انفلیشن | 6% | 7.2% | 11-13% |
| د ایف بي ار د ټیکسونو په مناسبت د جي ډي پي شرح | 11.6% | 10.8% | 12.6% |
| د ایف بي ار مالي هدف | 4,435 بلین | 4,150 بلین | 5,555 بلین |

د اعداد و شمار د وفاقي وزارتِ خزانه د بجټ **2019-20**ء دستاویزاتو نه اخستل شوي دي

# د دې کال د بجټ پېنځه منفرد خاصیتونه

د صوبې په خپل محاصل/ امدن کښې اضافه

په حکومتي خرچو کښې کمے راوستل

په هغه شعبو کښې سرمایه کاري کول کوم کښې چې خیبر پښتونخوا خدائي عطیه لري

Throw Forward کښې کمے راوستل او د ترقیاتي بجټ حجم زیاتول

ضم شدہ اضلاع کے عوام کی خوشحالی کا حکومتی وعدہ پورا کرنا۔

# پښتونخوا مالي تخمينه 20-2019 ء يو سرسري نظر

## د خيبر پښتونخوا وړومبے او غونډتاريخي بجټ

900 ارب روپۍ

د نوې او لوئې صوبې وړومبے بجټ

693 ارب روپۍ

په بندوبستي ضلعو کښې خرچ کونکے رقم

162 ارب روپۍ

په ضم شوؤ ضلعو کښې خرچ کونکے رقم

45 ارب روپۍ

د مرکزي حکومت په درخواست فاضل
اېښودے شوے رقم

د تاريخي ترقۍ په لړ کښې خرچ

319 ارب روپۍ

د پښتونخوا نوے ترقياتي بجټ

236 ارب روپۍ

په بندوبستي علاقو کښې د ترقۍ د پاره

83 ارب روپۍ


د ضم شوو ضلعو د ترقۍ دپار

# خرچي كمول

## په اخراجاتو يو جامع نظر ثاني او د كوټلي قدمونو په نتيجه كښي مونږه په موجوده خرچو قابو بيامونده

مونږ دا داسي وكړل


- د ريټائرډمنټ عمر مو بدل كړو او په دي لړ كښي مو په قانون نظر ثاني وكړه.
- د زائداؤ غېر اهم پوستونو خاتمه او په ټولو خرچو نظر ثاني وكړے شوه
- په راروان كال كښي د ريكارډ بهرتيانو يقين دهاني
- دېرش زره نوي بهرتياني د بندوبستي ضلعوپه هر سيكټر كښي
- په ضم شوي ضلعو كښي اولس زره (۱۷۰۰۰) نوي بهرتياني



خرچه کمول

## د ریټائرډمنټ عمر زیات کړې شو. د کال ۱۹۷۳ء پورې د ژوند توقعات بنیاد ئې څۀ دے؟

**1** د ۱۹۷۳ء نه روستو د ریټائرډمنټ عمر باندې نظر ثاني ولې ونۀ کړې شوه.




### د دې نه څۀ حاصل شو؟


د دې په نتيجه کښې به سالانه ۲۰ بلین بچت اوشي

**2** دا به د صوبې 0.1 فیصد د کار قوت متأثره کوي

- پینځۀ شپېتۀ لاکهه کار کونکو کښې به صرف لس زره د اوسط په بنیاد ریټائرډ کېږي.
- ډېرې اسامۍ خالي پرتې دي او د نورې بهرتۍ د پاره نوې اسامۍ هم تخلیق کولې شي.
- باوجود د دې د پنشنونو حکومت به سرکال خلوېښت زره بهرتیاني کوي.

# مونږ ځان له پاره غوره مالي اهداف لرو.

دا د پینځو کالو محنت دے چې د صوبې مالیات 100بلین نه پورته وختل.




د لاندینۍ تبدیلۍ به زمونږ د اهدافو په پوره کولو کښې لاس کونکي شي .


- په اندازه کولو د یکسانیت یقیني کولو، جامع وضاحتي قوانین جاري کړې شو.
- د سیلز ټیکس په مد کښې رضاکارانه تعمیل په لړ کښې ۱۰ فیصد، ۸ فیصد، ۵ فیصد ۲ سلیبز متعارفه کړې شوي دي.
- د ټیکس په میدان کښې دوؤ نوؤ سروسونو درجه بندي وکړې شوه یعني ډیجیټل اکانومي سروس منظم سیکټر (غیر ګهریلو) انسټالیشن او کمیشنګ سروس.
- اتۀ ویشت قسمه ټیکسونه کم کړې شو او د مخکښې نه جاري درې اتیا ټیکسونو کښې صرف ۴۹ ټیکسونه په ۱۵فیصده وساتل شو.

# قرضي کمول او ترقیاتي بجټ کښې اضافه کول

## په قرضو کښې ۴۳ فیصده کمے او د نوي روزګار موقعې پیدا کول


**Throw Forward څۀ شے دے؟**

هغه کلونه چې د وړاندې نه د منظور شوؤ یا اعلان کړې شوؤ منصوبو پوره کولو دپاره ضروري وي خو په دې شرط چې ورکښې نوي منصوبې شاملې نۀ وي .



## د قرضو کمول او ترقیاتي بجټ کښې زیاتوالے

## Throw Forward کمولو سره د پښتونخوا کښې تاریخي ترقیاتي بجټ تر سره شو




| | پنجاب | خیبر پختونخوا | سنده | بلوچستان |
|---|---|---|---|---|
| کل بجټ | 2,300 Bn | 900 Bn | 1,217 Bn | 419Bn |
| په ترقیاتي بجټ کښې حصه | 15% | 35% | 23% | 25% |

د بلوچستان اعداد ممکنه دي ولې چې دې صوبې تراوسه بجټ نۀ دے پیش کړے

## په ترجیحي سېکټرو کښې سرمایه کاري

# د پښتونخوا د کال 2019-20 بجټ، ترقیاتي بجټ دے.

سیاحت،د ځوانانو د خېر ښېګړې لوبو د پاره ٥.٩ بلین روپو پورې زیاتې کړې شوې دي چې دا سل فیصده اضافه ده.

د ښاریو د ترقۍ د پاره چې د پېښور ترقي پکښې شامل ده ٦.٧ بلین روپۍ مختص شوې چې دا

د زراعت د پاره ٤.٢ بلین روپۍ اېښودې شوې دي چې دا اضافه درې شپېتۀ فیصده ده.

سائنس، ټکنالوجي او د ائي . ټي د پاره ٦٤ بلین روپۍ مختص شوي دي چې دا اضافه دوه شپېتۀ فیصده ده.

د اعلٰی تعلیم د پاره ٥.٧ بلین روپۍ اېښودې شوې دي او دا اضافه څلوېښت فیصده ده.

د صنعتونو د پاره ١.٥ بلین روپۍ اېښودې شوې چې دا اضافه څلوېښت فیصده ده.


د ځنګلاتو د پاره ٤.٨ بلین روپۍ کېښودې شوې دي چې دا اضافه درې څلوېښت فیصدي ده.

د دې نه علاوه په ورومبي ځل د کم ترقۍ والا ضلعو د پاره ١.١ بلین روپۍ مختص کړې شوې دي په دې ضلعو کښې کولائي پلاس، بټګرام، ټانک، کوهستان بالا او شانګله شاملې دي.

## نوي ضم شوي علاقې

# په نوي ضم شوؤ ضلعو کښې سرمايه کاري د بجټ زړۀ دے.

په نوؤ ضم شوؤ ضلعو کښې د پرکپيټا بجټ موازنه
په پاکستاني روپو کښې




ذرائع: کنټرولر جنرل اف اکاؤنټس پاکستان

## يو سل دوه شپېتۀ بلين روپۍ

به په ضم شوؤ ضلعو لګولې شي.

## موجوده اخراجات

يو کم اتيا بلين په شمول د څلېريشت بلين
چې د لس کليزې ترقياتي منصوبې نه دي.

## ترقياتي اخراجات

درې اتيا بلين په شمول يو کم شپېتۀ بلين
د لس کليزې ترقياتي منصوبې نه دي.



# په بندوبستي علاقو کښې

# سیکټر وائز کوټلے خبرې

# په بندوبستي ضلعو کښي د بجټ محکمانه تقسيم

| | 2019-20 | 2019-20 | 2019-20 | 2019-20 | بجټ تخمينه YoY | بجټ تخمينه YoY |
|---|---|---|---|---|---|---|
| محکمه | غير ترقياتي | ترقياتي | ټوټل | بهرنے امداد | فيصدي ترقي | ټوټل فيصدي ترقي |
| زراعت | 7,900.2 | 4,200.0 | 12,100.2 | 5,309.7 | 63% | 13% |
| اوقاف- حج | 119.6 | 424.0 | 543.6 | - | 6% | 4% |
| سي اينډ ډبليو | 8,074.4 | 12,082.0 | 20,156.4 | 12,428.9 | 19% | 17% |
| ضلعي اے ډي پي | | 46,000.0 | 46,000.0 | - | 57% | 57% |
| ډي ډبليو ايس ايس | 7,152.1 | 3,799.0 | 10,951.1 | 1,000.0 | 14% | 21% |
| اي اينډ ايس اي | 119,707.3 | 9,698.0 | 129,405.3 | 7,682.2 | 7% | -7% |
| توانائي ، پاور | 153.0 | 812.0 | 965.0 | 8,204.4 | 178% | 123% |
| ماحوليات- ځنګل او ځنګلي ژوند | 3,518.5 | 4,126.0 | 7,644.5 | - | 42% | 24% |
| ايکسائز اينډ ټيکسېشن | 764.1 | 185.0 | 949.1 | - | -8% | -30% |
| خزانه | 2,250.5 | 229.0 | 2,479.5 | 5,000.0 | -96% | -70% |
| خوراك | 93,281.9 | 404.0 | 93,685.9 | - | -14% | 0% |
| صحت | 76,473.2 | 10,003.0 | 86,476.2 | 1,845.8 | 28% | 17% |
| اعلیٰ تعليم | 13,895.0 | 5,757.0 | 19,652.0 | 94.1 | 40% | 9% |

# په بندوبستي ضلعو کښې د بجت محکمانه تقسيم

| محکمه | غير ترقياتي | ترقياتي | توټل | بهرنے امداد | فيصدي ترقي | توټل فيصدي ترقي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| داخله | 52,553.0 | 2,912.0 | 55,465.0 | 537.5 | 87% | 4% |
| هاؤسنګ | 43.4 | 310.0 | 353.4 | - | -11% | -10% |
| صنعت | 3,227.7 | 1,478.0 | 4,705.7 | 820.9 | 40% | 11% |
| اطلاعات | 553.3 | 156.0 | 709.3 | - | 8% | 14% |
| ليبر | 492.5 | 58.0 | 550.5 | 39.2 | 5% | 6% |
| مقامي حکومت | 7,252.0 | 3,219.0 | 10,471.0 | 3,901.4 | 10% | 59% |
| معدنيات | 994.4 | 378.0 | 1,372.4 | - | -6% | 2% |
| ايم ايس ډي | 618.7 | 11,579.0 | 12,197.7 | 23,114.8 | 407% | 323% |
| پاپوليشن ويلفيئر | 2,127.0 | 242.0 | 2,369.0 | 585.0 | 62% | 4% |
| محمکه امداد و اباد کاري | 8,027.3 | 2,282.0 | 10,309.3 | 700.0 | 60% | 23% |
| سوشل ويلفيئر | 2,534.4 | 388.0 | 2,922.4 | - | 31% | 14% |
| سپورټس ټوارزم | 1,109.0 | 5,907.0 | 7,016.0 | 3,000.0 | 136% | 114% |
| ايس ټي ائي ټي | 111.8 | 638.0 | 749.8 | 356.0 | 62% | 46% |
| ټرانسپورټ | 347.7 | 1,972.0 | 2,319.7 | 12,318.1 | -72% | -69% |
| شهري ترقي | | 6,719.0 | 6,719.0 | - | 67% | 67% |
| انهار/ ابپاشي | 4,599.5 | 9,538.0 | 14,137.5 | 3,723.1 | 69% | 45% |

# سېکټر وائز لوئے پروګرامونه

## تعلیم



- په معیار اوچتولو زور،او نور عماراتونه نه جوړول
- د پینځویشتو زرو نه زیات استاذان د بهرتۍ په لار شامیلول چې کُل تعداد پینځۀ شپېتۀ زره(٦٥٠٠٠هزار) او په هر سکول کښې څلور استاذان شي.
- غوښتونکي اوۀ زره اے اېس ډي اوز پکښې درې زره بهرتي کول چې هغوي به د هېډ ټيچر کار کوي. چې دغه شان به د هر یو اے ایس ډي او لاندې د پینځۀ څلوېښتوپه ځائے درې سکولونه راشي.
- په ټولو بندوبستي ضلعو کښې د اووۀ سوؤ ارټ اي سي اي نرسري کلاسونو حالت مکمل کول.
- په پینځلسو زرو غوښتونکو کلاس رومز کښې د شپږو زرو کمرو تعمیر چې د تعداد نه زیاتې مسئلې حل کړې شي.
- د جینکو د وظیفې د پاره ١.٨٦ بلین روپۍ اېښودل.
- تبدیلي پروګرام باندې نظر مرکوز ساتلو په لړ کښې شروع کړے پروګرام " د پښتونخوا د پاره" هغه ګرېجوېټ چې د اعلیٰ یونیورسټو نه فارغ وي په اسکولونو کښې لګول.
- د صوبې د شلو نه زیاتو یونیورسټو ته ٢.٥ بلین روپۍ په مالي سپورټ کښې ورکول.
- زر ملین روپۍ د " پاك استریا فاکس شولے انستې ټیوټ" چې په ٢٠٢٠ء سپرلي کښې پرانستلے شي مختص شوي دي. پینځۀ دېرش ملین روپۍ د لائبرېرو د ودې د پاره اېښودې شوې دي.

## صحت



- د پښتونخوا د هر اوسېدنکي د پاره د یو همه ګیر صحت سهولت کارډ اجراء اووۀ بلین روپۍ د درېمې درجې هسپتالونو، د امراض قلب او د ګردې مرضونو په اوسنې او ترقیاتي بجټ کښې اېښودې شوي دي.
- د ګورنمنټ ملازمینو د پاره مېډیکل انشورنس ارټ اجراء.
- ټولو بنیادي صحت مرکزونو ته، ورك هېلتهـ سنټرز او سېکنډري هسپتالونو ته کم از کم هېلتهـ پېکج ورکول.
- د درېمې درجې، دوېمې درجې او د اولې درجې هسپتالونه ته د صحت جمله اسانتیا ګانو په لړ کښې د اے ډي پي لاندې لوئې پروګرام تابیا .
- د هېلتهـ سروسز ورکولو، او ایمونائزېشن د پاره ٤.٤ بلین روپۍ مختص کړے شوي دي.
- د بندوبستي ضلعو سره تعلق لرونکي د کېنسر (سرطان) په مرض کښې مبتلا خلقو له ٨٢٠ ملین روپۍ کېښودې شوې.
- د ذهني مریضانو د پاره د فوانټېن هاؤس د قیام د پاره ٨٣٠ بلین روپۍ مختص شوي دي.
- د صوبائي فنانس کمېشن لاندې د سېکنډري او پرائمري هسپتالونو د دوایانو بجټ ډبل کړې شوے دے.

## SECTOR MAJOR PROGRAMMES

### سړکونه اؤ توانائي

- ۸.٦ بلین روپۍ د صوبائي سړکونو د اباد کارۍ پراجېکټ لپاره مختص شوي دي دا د پښتونخوا هائي وے اتهارټي د اېشيائي ترقي بېنک په اشتراك تر سره کوي.
- د اېشيائي ترقياتي بېنك په مرسته د مردان صوابۍ سړك ډبل كولو د پاره ۳.٤ بلين روپۍ اېښودې شوې دي.
- په بندوبستي ضلعو کښې د نوو سړکونو د تعمير د پاره لس بلين روپۍ مختص کړې شوې دي.
- د شمسي توانائۍ سهولت ٤۰۰۰ جماتونو، لوئې سکولونو او د صحت بنيادي مرکزونو ته ورکولو په غرض ۱.۲ بلين روپۍ منظورې کړې شوي دي.
- اويا ملين روپۍ د بجلۍ مد کښې چې کومو کلو ته بجلي يا شمسي توانائي نۀ ده رسېدلې.
- د ٤۹٦ مېګاواټ" اسپاټ ګاه اېچ پي پي تعمير (ضلع کوهستان) د کے اېچ اين پي سره د پي پي پي موډ مطابق.
- په بالا کوټ کښې ۳۱۰ مېګاواټ، ۱۸۸ مېګاواټ ناران او ۵۷ مېګاواټ مدين هائيډرو پاور پراجيکټونو کار شروع کول.
- د ٤۰.۸ مېګاواټ کوټو اېچ پي پي دير لوئر، ۱۱.۸ مېګاواټ کوړارشانګلا او ۱۰.۲ مېګاواټ جبوري **HPP** مانسهره تعمير مکمل شو.
- د عالمي بېنك فېزبيلټي سټډيز د پاره ګبرال کالام ۸۸ مېګاواټ سوات، بري کوټ پټراك ٤۷ مېګاواټ دير بالا، پټراك شرينګل اېچ پي پي ۲۲ مېګاواټ دير اپر سر ته ورسېدۀ.

### زراعت، محکمه انهار ، د څښلو اوبۀ

- يو بلين روپۍ د اوبو ساتلو او د وړو ډيمونو حجم زياتولو د پاره مختص دي چې په هغې کښې ګومل زام ډېم او باراني علاقې کومې چې د وزيراعظم د زرعي اېمرجنسي حصې دي.
- يو بلين روپۍ د اوبو د لارو لختو د ترقۍ او د اوبو د جمع کولو تالابونه چې د وزير اعظم د زرعي اېمرجنسي حصې دي د پاره اېښودې شوې دي.
- ٦۰۰ بلين روپۍ د وزير اعظم زرعي اېمرجنسي چې پکښې د څناورو د بچو بچاؤ، غربت لر کول په لار د ډېري **ډويلپمنټ شامل دي،** مختص شوې دي.
- په بندوبستي علاقو کښې د وړو ډيمونو، سېلاب نه د بچاؤ ديوالونه، واټر سپلائي سکيمونه او د نهر په غاړه سړکونو د پاره ۹.۵ بلين روپۍ اېښودې شوې دي.
- په کرك کښې د څښلو د اوبو اسکيمونو د پاره ٦٤۲ ملين روپۍ چې د رائيلټي فنډ نه به ملاوېږي مختص کړې شوې دي.
- په ضلع مانسهره کښې د ګريوټي فلو واټر سپلائي اسکيم د پاره يو بلين روپۍ چې **SFP** د فنډ نه به خرچ کېږي مختص کړې شوي دي.
- په بندوبستي علاقو کښې واړۀ او درميانه سائز واټر سپلائي اسکيمونو د پاره ۳.۷ بلين روپۍ منظورې کړے شوې دي.

# سېکټر غټ پروګرامونه

## اقتصادي ترقي (یوتهـ) زلمے کول ، زنانه،انټرپرنیورشپ او د هنر د ودې د پاره پروګرامونه.

- په صوبه کښې د هنر مندۍ د ودې د پاره ۲۰۰ ملین روپۍ اېښودل پینځۀ سوه ملین روپۍ د نوجوان هنر مندانو او د بزنس مېنانو د پاره کېښودے شوې چې د هنر او تجارت مېدانونو کښې د سرمایه کارۍ رسائي ته وده مېلاؤ شي.
- دوه بلین روپۍ د انټر پرنیور، زلمي کول او زنانؤ د خبر ښېګړې د پاره د انقلابي بدلون پنګه مخصوصه کړې شوه.
- پینځۀ بلین روپۍ ځوانانو او هنر مندانو ته د قرضې ورکولو مد کښې مختص کړې شوې.
- سل ملین روپۍ په بونېر کښې د ماربل سټي د قیام د پاره وټاکلې شوې.
- پینځۀ سوه ملین روپۍ مختلف د یوتهـ ترقو مد کښې مختص کړې شوې رشکۍ اکنامك زون ته رسائي او دغلته اقتصادي هلې ځلې ته وده ورکول.
- پرائیوېټ او سرکاري همکاري د دې قابل جوړول چې هغوي کم از کم چې په لسو ټېوټا (**TEVTA**)انسټیټیوټس کښې د هنر مندو (افرادتي قوت) تربیت وکړي.

## لوبې او سیاحت

- د ټوارزم پولیس د قیام د پاره سل ملین روپۍ اېښودې شوې دي.
- د ټوارزم د ودې او د منزل د ترقۍ د پاره د عالمي بېنك په تعاون سره ۳.۷ بلین روپۍ مختص دي.
- د غېر دریافت ټوارسټ سپاټس (ځایونه) ته د ملاکنډ او هزارې ډویژنو کښې د رسائۍ سړکونو په مد کښې یو بلین روپۍ کېښودې شوې
- او ۱۵۰ ملین روپۍ شېخ بدین ټوارسټ سائټ ته د رسائۍ په مد کښې کېښودې شوي دي.
- په صوبه کښې د ټوارزم هلو ځلو د پاره ۳۰۰ ملین روپۍ مختص دي .
- په هنډ صوابۍ کښې د تفریحي مقام قائمول.
- په خېبر پښتونخوا کښې یو زر د لوبو سهولتونو د ودې د پاره ۵۰۰ ملین روپۍ اېښودے شي.
- په خېبر پښتونخوا کښې د اووۀ سپورټس کمپلکس د ودې او قیام د پاره ۳۵۰ ملین روپۍ اېښودې شوي.
- په صوبه کښې د هاکۍ او سکواش د ودې د پاره ۷۰ ملین روپۍ منظورې شوي دي.

# سیکټر غټ پروګرامونه


## مقامي حکومت ، ښارئي، دیهاتي او ګنړ سیکټرونو کښې د ودې په لړ کښې

- شپږ څلوېښت بلین روپۍ چې د ترقیاتي بجټ دېرش فیصده دا د منتخب لوکل باډیز د پاره اېښودې شوي دي.
- خصوصي ترقیاتي پېکج د پېښور د پاره چې هغوي کښې
- ۲ بلین روپۍ ټولو **WSSP**د پاره چې دوئیم شفټ او د اتوار د ورځ چلول او د سهولت سب اربن علاقو ته غزول.
- ٤.٥ بلین روپۍ د پېښور د ترقۍ د پاره خصوصاً د رنګ روډ، نیو بس اډه، پېښور اپ لفټ پروګرام او ریګي للمه ماډل ټاؤن د تعمیر د پاره اېښودې شوې دي.
- کمې ودې والا ضلعې چې په هغې کښې کولائي پلاس، بټګرام، ټانك، کوهستان بالا، شانګلا، بونېر، چترال (لوئر+ اپر ) او هنګو شاملې دي د پاره ۱.۱ بلین روپۍ مختص کړې دي.
- د هنګو، ټانك، لکي مروت، صوابۍ، چارسده، ملاکنډ، هري پور او مانسهرې د ضلعي هېډکواټرو اوچتوالے او د ښائست په مد کښې درې سوه ملین روپۍ اېښودې شوې دي.
- د تورغر معاشرتي ودې د پاره څلور سوه ملین روپۍ مختص کړې شوې دي.
- د ډیجیټل ټرانسفارمېشن مراکزو د پښتونخوا په ښارونو کښې د قیام د پاره ۵۰۰ ملین روپۍ اېښودې شوې دي.
- مخصوصو ضلعو ته د تماکو د سیس او این ایچ پي ائل او ګېس مد کښې ٦.٣ بلین روپۍ د هغوي د اوچتوالي د پاره مختص شوې دي.
- د جنوبي ضلعو د ترقۍ پراجېکټ مد کښې ٦۰۰ ملین روپۍ اېښودې شوي.
- د ضلعو د حکومت او د عام اولس د ترقۍ لپاره ۳.٤ بلین روپۍ په اشتراك د (اي يو) اېښودې شوي دي.
- د میونسپل سروس ډیلېوري د پاره د **USAID** په تعاون سره ۱۵۰۰ ملین روپۍ اېښودې شوي دي.
- د پبلك پارکس د قیام د پاره ۱٤٥ ملین روپۍ اېښودې شوې دي.

## سائنس ، ټېکنالوجي او ائي ټي

- ۵۰ ملین روپۍ د چیف منسټر د افس پېپر لس ګورنمنټ فیرا د پاره .
- ۱۰۰ ملین د اولس د "سهولت سنټر" د پاره.
- په خېبر پښتونخوا کښې د ډیجیټل جابزدَ ودې او زیاتولو د پاره ۲٥٦ ملین روپۍ مختص شوې.
- د زمکو رېکارډ ډي جي ټائزېشن او د سروس ډیلېوري سنټرز د قیام او تکمیل د پاره ۳۸۰ ملین روپۍ اېښودې شوي دي.

# سېکټر غټ پروګرامونه



## اقلیت او اولسي ښېګړې

- په دیني مدرسو کښې د طالب علمانو د پاره د وظیفې  او امداد په مد کښې شپېتهٔ ملین روپۍ اېښودې شوې دي.
- د سکل ډویلپمنټ اسکیم لاندې اقلیتونو د پاره سل ملین روپۍ مختص دي.
- په پېښور کښې د سکهـ فرقې د پاره د کمیونټي په بنیاد د سکول د تعمیر د پاره پینځهٔ ملین روپۍ اېښودې شوې دي.

## ځنګلات او ماحولیات

- ۲.۸ بلین روپۍ د بلین ټري او د لس بلین ټري سونامي د پاره مختص کړې شوې دي.
- په پښتونخوا کښې د قامي پارکونو د جوړولو او د هغې د انتظام د پاره ۱۹۵ ملین روپۍ اېښودې شوي دي.

## قانون او انصاف

- په باقي ضلعو کښې د وسلې د لا ئسنسونو کمپیوټرائزېشن د پاره ۳۰ ملین روپۍ مختص کړې شوي دي.
- د قانون ضابطې په طریقه کار کښې اصلاحات او د کیس منېجمنټ د پاره ۵۲ ملین روپۍ منظورې کړې شوي دي.

# ضم شوو علاقو د پاره

# سیکټر وائز بجټ

# په ضم شوو علاقو کښې د بجټ محکمانه تقسیم1/2

| محکمه | غیر ترقیاتي | ترقیاتي | میزان |
|---|---|---|---|
| زراعت | 1,041.6 | 1,321.4 | 2,363.0 |
| اوقاف- حج | - | 19.7 | 19.7 |
| سي اینډ ډبلیو | 1,484.2 | 5,663.8 | 7,148.0 |
| ایلمنټري اینډ سیکنډري تعلیم | 17,788.4 | 3,685.4 | 21,473.8 |
| انرجي اینډ پاور | - | 534.3 | 534.3 |
| ماحولیات، ځنګلات او ځنګلي ژوند | 338.8 | 875.0 | 1,213.8 |
| ایکسائز اینډ ټیکسیشن | - | 9.8 | 9.8 |
| فنانس (خزانه) | 8,143.4 | 10.0 | 8,153.4 |
| خوراك | 17.4 | 19.9 | 37.3 |
| صحت | 6,917.4 | 1,758.5 | 8,675.9 |
| اعلیٰ تعلیم | 2,101.0 | 549.3 | 2,650.3 |
| داخله، قبائلي علاقه جات، پولیس او د جیل محکمه | 16,957.1 | 98.2 | 17,055.3 |
| هاؤسنګ | - | - | - |

# په ضم شوو علاقو کښې د بجټ محکمانه تقسیم 2/2

| محکمه | غیر ترقیاتي | ترقیاتي | میزان |
|---|---|---|---|
| صنعت | 196.0 | 57.3 | 253.3 |
| اطلاعات | - | 9.9 | 9.9 |
| اپباشي | 149.2 | 1,301.2 | 1,450.4 |
| لیبر | - | 4.9 | 4.9 |
| لوکل ګورنمنټ | 301.8 | 651.2 | 953.0 |
| معدنیات | 57.3 | 19.7 | 77.0 |
| پلاننګ ډویلپمنټ اینډ بیوروآف سټیټسټکس | 62.2 | 64,047.6 | 64,109.8 |
| پاپولیشن ویلفیئر | - | 4.9 | 4.9 |
| ډي ډبلیو ایس ایس | 975.4 | 1,029.6 | 2,005.0 |
| ار اینډ ار | 17,107.4 | 84.0 | 17,191.4 |
| ریونیو اینډ اسټیټ | 3,091.5 | 10.0 | 3,101.5 |
| ایس ټي آئي ټي | - | 19.7 | 19.7 |
| سپورټس ټوارزم | 26.2 | 738.7 | 764.9 |
| ټرانسپورټ | - | 176.7 | 176.7 |
| زکواة، عشر، سوشل ویلفیئر اینډ اسپیشل ایجوکیشن | 131.5 | 262.7 | 394.2 |

## په ضم شوؤ ضلعو کښې د تعلیم او د صحت اسانۍ رسول د حکومت په ترجیحاتو کښې دي.

### د سېکټر غټ اسکیمونه

SECTOR



- د تعلیمي ادارو د اپ گرېډېشـــن په لړ کښــې چې پرائمري مډل ته او مډل هائي یا هائر سېکنډري سکولونه ته چې په قبائلي سیمه کښـــې او سابقه
- ایف آر ریجن کښې قائم دي دپاره ۸۵۰ ملینه روپۍ اېښودې شوې دي.
- د کوئك ایمپېکټ پروګرام لاندې یوپشت هائي سېکنډري سکولونه معیاري کولو په غرض ۵۰۰ ملین روپۍ اېښودې شوې دي.
- په ټولو قبائلي سیمو کښې چالو اسکولونو د پاره د فرنیچر سامان په مد کښې ۲۸۰ ملین روپۍ اېښودې شوي دي.
- په تمامو قبائلي ضلعو کښې د بنیادي تعلیم په متعارف کولو به ٤٦ ملین خرچ کولې شي.
- په قبائلو ضلعو کښې موجود نوې کولاؤ شوي تعلیمي ادارو کښې د سټاف د کمي برابرولو مد کښې ٤٠ ملین روپۍ اېښودې شوي دي .
- په دوه ۲ ضلعو کښې د کے جي او وړومبي کلاس جینکو د پاره وظیفې په غرض د ودې په انرولمنټ کښې څلوېښت ملین روپۍ ټاکلې شوي دي.
- موجوده پرائمري سکولونو کښې د سهولت د ورکړې مد کښې ۲۰ میلن روپۍ اېښودې شوې دي (لس په هر اېجنسۍ کښې او ۵ په هر ایف ار کښې)
- د اعلیٰ تعلیم په مېدان کښې قبائلي طالب علمانو ته ( ملکي سطح تعلیم) په مد کښې ۹۵ ملین منظورې کړې شوې دي.


### صحت



- په نوؤ پرانستې شوؤ علاقو کښې د صحت د سهولتونو مد کښې د سټاف د کمي پوره کولو په غرض ۳۰ ملین روپۍ منظور کړې شوې دي.
- په ضم شوؤ علاقو کښې د ضلعي هېډ کواټر او هسپتالونو د مضبوط والي په لړ کښې ۸۵ ملین روپۍ اېښودې شوي دي.
- په فاټا علاقو کښې د موبائل هسپتالونو پروګرام د پاره ٦۰ ملینه روپۍ اېښودې شوي دي.
- د صحت سهولتونو په لړ کښې د دوایانو او تشخیصي موادو د پاره ۸۰ ملین روپۍ اېښودې شوې دي.
- په قبائلي ضلعو کښې د ورټیکل پروګرام لاندې د اي پي ائي او هېپي ټائټس د پاره ۲۰۰ ملین وټاکلې شوې.
- په ضم شوؤ علاقو کښې د ډي اېچ کیو هسپتالونو کښې ټراما سنټرز او حادثاتي سنټرز د ودې د پاره ۱۳۰ ملین روپۍ اېښودې شوې دي.
- په ضم شوؤ ضلعو کښې د موجودو سهولتونو سره سره د پورټیبل الټراساؤنډ سهولت ورکولو په مد کښې ٤۰ ملین روپۍ اېښودې شوې دي .
- په کُرمه کښې د مېډیکل کالج قیام.

# نورو اهمو سېکټرو کښې سرمايه کاری

SECTOR



## غټ اسکيمونه

- مقامي حکومت به د خېبر سره سره نورو ضلعو ته هم غزولې شي.
- د جنرل پبلك پارکس قيام د پاره ۲۵ ملين روپۍ مختص شوې دي.
- په ټولو ضم شوؤ علاقو کښې د سبزۍ، مېوې او ډنګرو د مارکېټونو په قيام به ۲۰ ملين خرچ کولے شي.
- په تمامو قبائلي سيمو کښې به د لوکل ګورنمنټ په وساطت واړۀ ترقياتي اسکيمونه چې په هغې کښې سړکونه، د څښــلو د اوبو اسکيمونه شامل دي سرته رسولې شي.

## انرجي اينډ پاور

- په ټولو قبائلي سيمو کښې د اوسني پاور سپلائي نظام د ښۀ کولو او مرمت کولو په لړ کښې ۳۰۰ ملين روپۍ منظورې کړې شوي دي.
- په ټولو قبائلي سيمو کښې موجود جماتونه، سکولونه او بنيادي د صحت مرکزونه به په شمسي توانائۍ سره فائده مند کولې شي.

## سړکونه

- څلور پنځوس کلوميټره ميرالي، شيوس او تهل روډ په شمالي وزيرستان کښې به جوړولې شي.
- په تمامو قبائلو سيمو کښې د سړکونو جوړول او تارکولي کولو د پاره خاص فنډ مختص شوے دے.

## سپورټس او ټوارزم

- په تمامو قبائلي ضلعو کښې د لوبو سهولتونه د ګراونډونو جوړول (په ضلعي سطح يا د سب ډويژن په سطح) د پاره ۵۹ ملين منظورې کړې شوې دي.
- په تمامو ضلعو کښې د لوبو د سهولتو ته د ضلعي يا د سب ډويژن په سطح د پاره ٤۲ ملين منظورې شوې دي.
- په قبائلي ضلعو کښې د ايمپېکټ چېلنج پروګرام لاندې د ځوان کول د اقتصادي سوکالۍ د پاره ۳۰ ملين روپۍ منظورې شوې دي.
- په قبائلي ضلعو کښې د سېل د ځايونو د ښائست او ودې د پاره ٤۵ ملين منظورې شوې دي.



پښتو ترجمه:

**نیمروز قیس**

مرسته:

پراجیکټ کیپسټي بلډنګ اینډ سټرنټرنګ

آف فنانس ډیپارټمنټ خیبر پښتونخوا

رابطه:

**محکمه خزانه خیبر پښتونخوا**


GoKPFD

Finance Department Khyber Pakhtunkhwa

+92 (91) 9210531

financekpp.gov.pk